# دتنفسي سيستم په اره معلومات

دانسان تنفسي سيستم دهواله لارواوسږوڅخه عبارت دي.
كله چي دهوادپزي له لاري بدن ته ننوزي له كومي اوحنجري څخه تيريږي اودقصبة الريی اوبرانشونوله لاري سږوته رسيږي په هوايی كڅوږوكي چي دسږوپه مينځ كي ځای لري دغازونوتبادله صورت مومي :
دتنفسي سيستم غړي اودندي په لاندي توگه معريفي كيږي

1دپزي تشه : هغه هواچي پزي ته ننوزي دلزجي مايع اوپه پزه كي دننه دنريوويښتيانو( سيليا) په واسطه تصفيه توده اونمجنه كيږي اوهمدارنگه خاوري دوري اومكروبونه چانيږي :

2كومی (Pharynx) دتنفس په وخت كي له كومي څخه يوازي هواتيريږي دغذايی موادو او اوبودتيريدلوپرمهال تنفسي لاره دكومي دوري ژبي په واسطه تړل كيږي اوخوراكي توكي دمري پرلوري وړل كيږي اوحنجري ته نه ننوزي :

3حنجره (Larynx) دكومي څخه وروسته حنجره موقعيت لري چي دوي پردي يادغږ( صوت )تنابونه لري غږ دصوتي پردودرپيدواودهغوعضلودانقباض اوانبساط له كبله چي ورسره نښتي دي توليديږي دغږدتنابونوجوړښت په نارينه اوښځوكي توپيرلري داتوپيردهغوي دغږدتوپيرلامل كيږي بايدزياته شي چي سگرټواودچلم څكل دغږ پردوته زيان رسوي

4قصبة الريه (Tracha) يوه كرپندوكي ( غضروفي)تشه لوله ده چي له حنجري څخه وروسته موقعيت لري اوهواورڅخه تيريږي قصبة الريه د2,5سانتي متروشاوخواكي قطر او11سانتي متره اوږدوالی لري .پاسنی برخه يی حنجري اوښكتنی برخه يی په دووچپه اوراسته برانشونو(Bronchus)پوري چي هواسږوته ليږدوي نښتي ده .دقصبة الريی دننه سطحه دنمجنوويښتيانو( سيليا)په واسطه پوښل سوي ده چي دمكروبونوخاورواودوړوله چاڼ سره مرسته كوي اوسږوته دهغوي دننوتلومخه نيسي .
دقصبة الريی وروستی برخه په دووڅانگويابرانش ويشل كيږي راسته برانش راسته سږي ته اوچپه برانش يی چپه سږي ته ځي

5سږي (Lungs) سږي له هواڅخه ډك سفنجي ډوله ارتجاعي بالونه دي چي دټټردننه دزړه راسته اوچپه خواته دحجاب حاجزدپاسه موقعيت لري . برانشونه دسږي په دننه دبرانشيلونو( Bronchioles) په نامه پركوچنيوڅانگوويشل كيږي په پای كي برانشيلونه په هوايی كڅوږوپای ته رسيږي هوايی كڅوږي دغازونودتبادلي اصلي ځای دی هره هوايی كڅوره زيات ويښته ډوله رگونه لري چي اخستل شوی اكسيجن جذب اوكاربن ډای اكسايډچي دبدن دحجراتوڅخه اخستل سوی دی دهوايی كڅوږودننه ازادوي هرسږی په ميليونونوهوايی كڅوږي لري . دسږودكڅوږوعمومي سطحه له سلومربع متروڅخه ډيره ده يعني دهغوي عمومي سطحه دبدن دپوستكي پنځوس برابره ده له همدي كبله پوره اكسيجن اخلي اوكابن ډای اوكسايډخارجوي .

دتنفس عمليه :
دتنفس عمليه سږوته دهواداخليدوسږوته(Inspiration)اوله سږونه دهواله وتلو(Expiration)څخه عبارت ده :دهواپه داخليدودټټردقفس حجم زياتيږي چي له دي كبله دټټردپنجري داخلي فشارټيټيږي .برعكس دټټردقفس دحجم په كوچني كيدودټټرپه دننه كي دهوافشارزياتيږي اوله سږوڅخه دهوادوتلولامل گرځي . په سږوكے دغازونوتبادله سرته رسيږي .
يوځوان انسان په يوه دقيقه كي له 12تر20ځلوپوري ساه اخلي دساه اخستلوشميرداستراحت په وخت كي كميږي دكاراوورزش په وخت كي زياتيږي .

دويني په واسطه دغازونوليږديدل :
اكسيجن زياتره دهيموگلوبين په واسطه ليږدول كيږي چي دويني په سروكرويااتوكي موجوددي . كاربن ډای اوكسايډپه وينه

کي زیاتره په پلازماکي دمحلول په بڼه لومړی زړه ته اوله هغه ځای څخه داطراح لپاره سږوته وړل کیږي .

دتنفسي سیستم ځیني معمولي ناروغۍ :

1والګۍ (Common cold): دوالګي دناروغۍ عامل یوډول ویروس دی چي دالکترون مکروسکوپ په وسیله لیدل کیږي اوپه هرموسم کي موجودوي .ددي ناروغۍ عامل دخولي دلاړواودپزي داوبوپه وسیله دټوخي اوپرینجیدلوپه وخت کي خارجیږي . که روغ سړی په ویروس باندي ککړه هواتنفس کړي دوالګي په ناروغۍ اخته کیږي . شخصي روغتیاساتنه دوالګي اوهغه ته دورته نوروناروغیوله مخنیوي سره مرسته کوي

2انفلونزا(Influenza): دانپلونزادناروغۍ عامل یوبل ډول ویروس دی چي دوالګي له ویروس سره توپیرلري .په ناروغۍ کي سربیره پرهغونښوچي دوالګي په ناروغۍ کي لیدل کیږي ناروغ سخته تبه اوسرخوږلري . همدارنګه دناروغ پزه سوځي نرۍ اوټینګه مایع یی له پزي بهیږي .دانپلونزا ناورغي دوالګي په پرتله ډیردوام کوي اوډیر استراحت ته ارتیالري

3توبرکلوز(Tuberculosis): توبرکلوزیادنري رنځ ناروغي تراوسه پوري دیوي ستري روغتیایی ستونزي په توګه مخ په ودي هیوادوکي پاتي سوي ده اوکه درملنه یی ونه شي دمړیني لامل ګرځي .دنري رنځ ناروغي دبکتریاپه واسطه منځته راځي اوزیاتره دهوادتنفس اود نا روغۍ په عامل باندي دککړوڅاڅکوپه وسیله لیږدول کیږي .

همدارنګه نری رنځ دککړوشیدوپه خوړلوککړولوښوکالیودمخ وچولوټوکراونوروککړوشیانوپه وسیله روغ شخص ته لیږدول کیږي .دناروغۍ نښي نښاني :

دوامداره ټوخۍ دساه اخستلوستونزه ستریاتبه داشتهاکموالی ډنګروالی دټټرخوږوینه لرونکی بلغم اونوردي . نو وزیږیدلوماشومانوته بی سی جی BCGواکسین کیږي چي ددي ناروغۍ په مقابل کي معافیت ترلاسه کړي ځکه وقایه تردرملني بهتره اوارزانه ده

——— پوښتني ———

پوښتنه :هواله کوم‌ولاروسږوته ننوزي

جواب :هوادپزي خولي کومي توتکۍ قصبة الریی اوبرنشلونوله لاري سږوته ننوزي

پوښتنه : سږي څه شي دي

جواب :سږي له هواڅخه ډک سفنجي ډوله بالونونه دي چي دټټردپنجري په منځ کي دزړه راسته اوچپه خواته اودحجاب حاجزدپاسه موقعیت لري

پوښتنه : دخارجي تنفس په عملیه کي څومرحلي دي

جواب :دوي مرحلي سږوته دهواننوتل اوله سږوڅخه دهواوتل

پوښتنه : داکسیجن ډیره برخه دڅه شي په واسطه لیږدول کیږي

جواب: داکسیجن ډیره برخه دهموګلوبین په واسطه چي دبدن په سروکرویاتوکي موجوددی دبدن حجروته لیږدول کیږي

پوښتنه : کاربن ډای اوکسایډپه څه شي کي لیږدول کیږي

جواب: دکاربن ډای اوکسایډډیره برخه دویني په پلازما کي په منحل توګه استول کیږي

پوښتنه : تنفسي سیستم څونارغیونومونه واخلی

جواب :تنفسي سیستم ناروغۍ لکه والګۍ انپلونزااونري رنځ څخه عبارت دي

پوښتنه : په سږوکي دغازونوتبادله په څه ډول سرته رسیږي

جواب: هوایی کڅوړي دغازونودتبادلي اصلي ځای دی هره هوایی کڅوره زیات ویښته ډوله رګونه لري چي اخستل سوی اکسیجن جذب اوکاربن ډای اکسایډچي دبدن له حجراتواخستل سوی دی هوایی کڅورودننه ازادوي

پوښتنه برانشونه په څه شي ویشل کیږي

جواب : برانشونه دسږوپه دننه دبرانشیلونوپه نامه په کوچنیوڅانګوویشل کیږ ي

پوښتنه : داوبواوغذایی موادودتیریدوپه وخت کي تنفسي لاري دڅه شي په واسطه ترل کیږي

جواب : دکومي دوړي ژبۍ په واسطه ترل کیږي چي حنجر ي ته دخوراکي موادودننوتلومخه ونیسي

پوښتنه : والګي اوانپلونزاترمنځ توپيرڅه دی

جواب :دواري ناروغۍ په جلاجلاويروسونوباندي رامينځته کيږي توپيريی په اعراضواوعلايموکي دی

١.. پوښتنه : دتنفسي سيستم غړي کوم دي؟

جواب: پزه بلعوم حنجره شزن راسته او چپه قصبات سږي.

پزه دهوا دتوديدو او مرطوب کيدو دنده په غاړه لري

بلعوم پر۳ برخوويشل کيږي Laryngo Pharynx 1

Naso pharynx 3 Oro pharynx 2

دحنجري دنده آواز توليدونکی غړی دی

شزن هوايی نل څخه عبارت دی دهوا دانتقال باعث کيږي طول يی 10 تر12 cm دی

دشزن دندي دبلعي عمليه اسانه کوي خاوري او دوري دستوني خواته شړي.

قصبات له يو طرفه انشاق سوی هوا فلتر کوي دبلي خوا نوموري هوا دتنفس لپاره تودوي .

سږي (Mediastenum) چي په صدري وسط کي موقعيت لري سږي پرلوبونو ويشل سوی راسته سږی دوه فصه يالوبونه لري

او چپه سږی دري فصه يا لوبونه لري دهر سږي سطحه دسيروزي غشا په واسطه پوښل سوي ده .

دتنفسي سيستم دنده اکسيجن بدن ته داخلول او کاربن ډای اکسايد له بدن څخه خارجول .

ددي کار لپاره ۴ جلا جلا پيښي چي په ګډه تنفس بلل کيږي بايد تر سره سي .

1 ريوي تهويه 2 خارجي تنفس 3دتنفسي ګازاتو انتقال 4 داخلي تنفس .

پوښتنه :شهيق او ذفيرعمليی څه ته وايی ؟

جواب:شهيق څرنګه هوا سږوته داخليږي او ذفيرهوا څرنګه دسږو څخه وزي .

پوښتنه : بيله تنفس څخه هوا څرنګه سږو ته داخليږي؟

جواب: دپوخي او پرنجي په واسطه دژړا اوخندا څخه عبارت دی .

پوښتنه : تنفسي سيستم ته دهوا د داخليدو اوخارجدو په وخت کي څو ډوله آوازونه اوريدل کيږي ؟

جواب: 3ډوله اوازونه اوريدل کيږي.

پوښتنه : په سږو کي څو ډوله ګازونه ستون لري؟

جواب :په سږو کي 4ډوله ګازونه شتون لري لکه اکسيجن کاربن ډای اکسايډ نايتروجن او داوبو بخار .

ستاددعاپه هيله ډاکټرحافظ عابد

___________ 1401/10/5 ____________

0707848712 تماس شماره ـ